گرانه پلاره ! زه په خیر سره جرمنۍ ته ورسېدم او تقریباً لس ورځې وروسته په خپل پوهنځی کښی شامل شوم . زمونږ درسونه نښه پر مخ ځي او زه هم په خپلو درسونو کښی نښه یم ، خو لږ څه له جرمنی ژبې سره اشنا نه یم . نو یو څو موده به را ته تکلیف وي . بیا هم امید لرم چه د خپل زیار او کوښښ په برکت جرمنی ژبه ژرتر ژره زده کړم او په خپلو ملګرو پسی به ځان ورسوم.

==========

لیک د پلار له خوا زوی ته

گرانه زویه ! وروسته له څه وخت انتظار نه ستا لیک راورسېد . په لیدلو یی ډېر خوشحاله شوم . ستا خط مې د کور ټولو خلکو ته وښود . هغوی هم ډېر خوښ شول . گرانه زویه ! ښایی چه پخپلو لوستونو کښی ډېر زیار وباسې تر څو چه په کامیابی او خوشحالی سره بېرته خپل وطن ته راشې. گوره چه خپل وخت بې ځایه او خوشی تېر نه کړې. یوه خبره بله هم یاده ساته چه خپله ملی ژبه به نه هېروې او پښتو کتابونه هم کله کله گوره ، تر څو چه د خپلې ژبې سره نا اشنا نه شې .

لغتونه

زوی	[zoi]	(阳) زامن،	儿子
په خیر سره			平安地，顺利地
جرمني	[dʒarmə'ni:]	(阳)	德国；德国人
		(形)	德国的，德意志的
تقریباً	[takˌri'ban]	(副)	大约，大概，左右
شاملېدل	[ʃa:milei'dəl]	(不及) شامل شو،	参加，加入；（被）包含
پرمخ تلل	[prmkht'ləl]		前进，向前走；进步
اشنا	[a:ʃ'na:]	(阳)	熟人，朋友；情人
یو څو	[jau'tso]	(数)	几，几个，一些
موده	[mu:'da]	(阴)	日期，时日；时期，时间
تکلیف	[tak'li:f]	(阳)	困难，艰难；麻烦；劳碌，奔走
بیا هم			还是，终究，毕竟；不过，然而，但是
امید	[u'meid]	(阳)	希望，指望，期望，期待
ژر تر ژره			尽快地
برکت	[bara'kat]	(阳)	好意，善意；影响，威信
په... پسې ځان رسول			追上，赶上
انتظار	[inti'za:r]	(阳)	等待，等候
خوشحال	[khu:ʃ 'ha:l]	(形)	满意的；快乐的，高兴的，愉快的
(په) یاد ساتل			
تر څو چه			直到……时为止，直至……；为的是……

كاميابي	[ka:mia'bi:]	(阴)	成功，成就，胜利；（学习的）成绩
خوشي	['khu:ʃei]	(形)	徒劳的，空的
		(副)	白白，徒然
خوشحالي	[khu:ʃha:'li:]	(阴)	快乐，高兴，愉快
(په) یاد ساتل	['ja:d sa:'təl]	(及)	记得，记住
هېرول	[heira'wəl]	(及)	(هېر یې کړ) 忘记；遗忘；置之脑后
کله کله			有时，有时候
نااشنا	[na:aʃ 'na:]	(形)	不熟识的，不熟悉的，生疏的

ديالوګ

۱-په خير راغلې !

په خير اوسې!

۲-له کندهار نه کله راغلې ؟

ورمه ورځ.

۳-ته يوازی راغلې ؟

نه ، بريالی هم راسره و .

۴-بريالی دې څه کېږي ؟

ورور مې دی .

۵-څو ورونه لري ؟

دوه، یو تر ما مشر دی، بل کشر دی.

۶-بریالی مشر دی که ته مشر یې؟

دی کشر دی.

۷-بریالی څو کلن دی ؟

پنځلس کلن دی .

۸-نو مشر ورور دې څه نومېږي ؟

توریالی نومېږي.

۹-توریالی له تا نه څو کاله مشر دی ؟

دی له ما نه دوه کاله مشر دی .

۱۰-ستا ورونه څه کار کوي ؟

دواړه زده کوونکي دي .

۱۱-که ربنتیا در ته ووایم توریالی زه پېژنم ، هغه هم ما پېژني.

زه هم خبر یم چه ته د توریالی سره پېژند گلوی لرې.

۱۲-مونږ یو ځای امتحان ورکړ. هغه ډېر پوه هلک دی.

لغتونه

ورمه ورځ	['wərəma w'radz]	(阴)	前天
یوازی	[ja'wa:zi]	(形)	单独的；孤独的；独自一个的
(د چا) څه کېږي			是……的什么亲戚关系
مشر	[məʃr]	(形)	年长的，年纪大的
کشر	[kəʃr]	(形)	年幼的，年纪小的
کلن	[ka'lan]		放在数词后边表示年龄的多少
نومېدل	[nu:mei'dəl]	(نومېږی، نومېده)	(不及) 叫做，名叫，名为，被称呼为
پېژندل	[peiʒan'dəl]	(پېژنی، و یی پېژاند)	(及) 认识，认得，熟识
پېژندګلوی	[peʒandgal'wi:]	(阴)	认识，熟识
امتحان	[imti'ha:n]		考试，试验，检验
امتحان ورکول			应试，答考卷，应考
پوه	[poh]	(形)	聪明的，聪慧的，伶俐的；英明的，明哲的

注 释

1. په خپل پوهنځی کښی شاملېدل　入学，入校

2. نو یو څو موده به را ته تکلیف وي　所以在一段时间里对我来说将是困难的。句中 تکلیف 是主语。

3. د...په برکت　多亏，由于……因为……

4. (...چه) گوره 是动词 کتل 的命令式，用来招呼对方或提醒对方注意。

5. یوه خبره بله هم یاده ساته 还有一件事你也要记住……

如果说成 یوه بله خبره 是错误的。

例如：...یوه خبره بله دا چه 还需要补充说一句……

د یوه بل احترام 互相尊重

6. خپله ملی ژبه به نه هیروې 不要忘掉自己的民族语言。

该句不是将来时，而是表示“一定，必须”的语气。

例如：نن به باران اوري 今天（肯定）要下雨。

7. که رښتیا در ته ووایم 实话告诉你吧，老实说，

语 法

一般过去时（一）

一般过去时用来表示过去发生的动作或存在的状态。如：

دوی ډوډۍ وخوړله.

他们吃过了饭。

الوتکه په نهنیمو بجو والوته

飞机在九点钟起飞了。

زه خوښ یم چه بریالی شوم.

成功了，我很高兴。

منی راغی، بارانونه پیل شول.

秋天来了，开始下雨了。

1. 及物动词一般过去时的构成：在及物动词一般过去时句中，主语用变格，宾语用原格。及物动词的变位规则是依宾语的称、性和数，用相应的

过去时态词尾取代原形动词尾 ـيدۇ （或直接加在 ـيدۇ 上），然后在动词之前加前缀 ۋ。

过去时词尾：

第三人称		第二人称	第一人称	
阴性	阳性			
ـ(ى)غاندە (ɑ)	ـ(ى)كەندە (ə)	ـيڭ	ـمەن	単数
ـيدۇ	ـيدۇ	ـسىلەر	ـمىز	复数

及物动词一般过去时的构成，以 ليدل 为例，列表如下：

第三人称单数		第二人称单数		第一人称单数		宾语 / 主语
阴性	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	
ولىدلە	ولىد	ولىدلې	ولىدلى			ما، مونۇ
ولىدلە	ولىد			ولىدلم	ولىدلم	تا، تاسى
ولىدلە	ولىد	ولىدلى	ولىدلى	ولىدلم	ولىدلم	ده، هغى دوى، هغوى

第三人称复数		第二人称复数		第一人称复数		宾语 / 主语
阴性	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	
ولىدلى	ولىدل	ولىدلئ	ولىدلئ			ما، مونۇ
ولىدلى	ولىدل		ولىدلو	ولىدلو	ولىدلو	تا، تاسى
ولىدلى	ولىدل	ولىدلئ	ولىدلئ	ولىدلو	ولىدلو	ده، دې، هغه، هغې، دوى، هغوى

及物动词 كول 一般过去时，需换成新根 كۆل，然后进行变位。第

三人称为例，列表如下：

第三人称				宾语 / 主语
复数		单数		
阴性	阳性	阴性	阳性	
وکړي	وکړل	وکړه	وکړ	ما ، مونږ،تا ، تاسی ده ، دی، هغه ، هغی دوی ، هغوی

注：名词性合成及物动词（如 کوښښ کول）的一般过去时变位方法同此表。形容词性合成及物动词（如：پاکول ）变位时，形容词本身的性和数同宾语相一致，并去掉前缀“ و ”。

لغتونه

الوتکه	[alwu:ˊtəka]	(阴)	飞机
الوتل	[alwu:ˊtəl]	(不及) الوزي، وا به لوزي، والوت	飞，飞行，飞舞；飞起来
پیل	[pail]	(阳)	开始，开头，起初；发起，创举

练 习

1. 回答下列问题：

١-ځلمی د جرمنی په یوه پوهنځی کښی شامل شو که نه ؟

٢-ځلمی په خپلو درسونو کښی څنګه دی ؟

٣-د ځلمی پلار ولی ډیر خوشحاله شو ؟

٤-د ځلمی پلار د خپل زوی خط چا ته وښود .

۵-توریالی دې کله وکوت ؟

۶-خپل کالی یی چېرته واچول ؟

۷-ته چه بازار ته ولاړې، ډوډۍ دې وخوړه ؟

۸-ته له توریالی نه څو کاله کشر یې ؟

2. 普译汉:

۱-دی د اتو کالو و چه په زده کړې یی پیل وکړ.

۲-زه دا کمیس نه اخلم ، حُکه چه پر ما باندی ډېر ارت دی .

۳- دا قلم دلته مه ږده، هلته یی کښېږده .

۴-بریالی خپل امتحان ورکړ. اوس د توریالی وار دی چه امتحان ورکړي .

۵-هغه د باندی ولی نه راوحُي ؟

حُکه نه راوحُي چه دننه څه کار لري .

۶-تقریباء یو کال کېږي چه مونږ پښتو وایو .

۷-مونږ په تا پسی ډېر وگرځُېدو. خو ته مو پیدا نه کړې .

۸-تا څوک له حُانه سره راووست ؟

ما خپل ورور له حُانه سره راووست .

۹-کار اسانه (容易) دی ، پیل یی گران دی . (谚语)

3. 动词一般过去时变位:

دوه ورحُي وروسته پوهنحُی پیل (کېدل). بریالی پوهنحُي ته (تلل). کله چه د ټولگي ملگري یی (راتلل)، د هغوی سره یی روغبړ (کول).

ټول زده کوونکي خوښ (دی) . هغوی خپل ټولگي ته (تلل) او په څوکیو باندی (کښېناستل) . ښوونکی صاحب هم (راتلل)او د زده کوونکو د حال پوښتنه یی (کول)

第二十六课　　شپږ ویشتم لوست

د پښتون پېژند ګلوی

پښتانه د آریایانو یوه مشهوره څانګه ده. دوی په یوه شریکه حُمکه کښې اوسېږي. ټول په یوه ژبه غږېږي او د یوه دین اسلام تابع دي. دوی زړه ور او په آزادۍ مین خلک دي. د پښتنو د خپلواکۍ لومړی ننبه د وطن مینه ده. هر پښتون د خپل هیواد او وطن سره د زړه مینه لري. د وطن د شرف په ساتلو کښې سر ورکول خپله وظیفه ګڼي. د پت او عزت ژوند ته ډېر اهمیت ورکوي. خپل حُان پخپله ساتي او د بل په تمه او اسره ژوند نه تېروي. په خپلو مټو باور لري او خپل پیښې په بل نه اچوي. له زمانې سره حُان سموي، خو خپل پښتنې بڼه نه بدلوي. پښتو او پښتونوالی خپل ناموس بولي. په پښتنې جذبه د پردو مخې ته لکه غر درېږي او په دغسې وخت کښې یو لاس او یو موټی کېږي.

لغتونه

آریایی	[a:rija'i:]	(形)	亚利安的
		(阳)	亚利安人
مشهور	[maʃ'hu:r]	(形)	著名的，出名的，有名的
څانګه	['tsa:nga]	(阴)	树枝；支流；支脉；部门
شریک	[ʃari:k]	(形)	共同的；公共的，共用的
غږېدل	[ghagei'dəl]	(不及) (وغږېد)	发声，响；说话，谈话
دین	[di:n]	(阳)	宗教

اسلام	[is'la:m]	(阳)	伊斯兰教
تابع	[ta:'bi]	(形)	从属的，依附的，依赖的，恭顺的
زړه‌ور	[zṛə'war]	(形)	勇敢的，大胆的
مين	[ma'jan]	(形)	发生爱情的，钟情的；富于爱心的
په‌آزادۍ مين			热爱自由的
خپلواکي	[khpəlwa:'ki:]	(阴)	独立，自主，自治，自由
شرف	[ʃa'raf]	(阳)	高尚性；人格，尊严
سرورکول			牺牲，捐躯
وظيفه	[wazi:'fa]	(阴)	责任，任务，职责
پت	[pat]	(阳)	人格，品格；尊严
عزت	[i'zat]	(阳)	光荣，荣誉；尊重
اهميت	[ahmi'at]	(阳)	意义，重要性，重大
اهميت ورکول			重视，看重
تمه(طمع ، طمعه)	['tama]	(阴)	指望，期待，仰赖
اسره	[as'ra]	(阴)	希望，想望；梦想
باور	[ba:'war]	(阳)	确信，信心，信任
پيټی	[pei'ṭai]	(阳)	担子，负担；驮物
زمانه	[zama:'na]	(阴)	时候，时期，时代
سمول	[samaẃəl]	(及) (سم يې کړ)	使平坦；弄直；纠正，修正
بڼه	[baˈṇa]	(阴)	面目，面貌，外表；
پښتني	[paḥtaˈni]	(形)	样子，形式；本性 普什图人的；阿富汗人的

بدلول	[badla'wəl]	(及)（ بدل یی کړ ）	替代，交换，更换，换
پښتونوالی	[paḥtu:nwa:'li:]	(阴)	普什图人的风俗习惯
ناموس	[na:'mu:s]	(阳)	荣誉，名誉，人格；贞节
بلل	[ba'ləl]	(及) (بولي، و یی باله)	名为，叫做；召，唤，号召；邀请
جذبه	[dʒaz'ba]	(阴)	热情，热忱，强烈感情
پردی	[pra'dai]	(阳)	外人，他人；外国人
دغسی	['daghasi]	(代)	这样的，这种的
یو لاس	[jaw'la:s]	(形)	团结的，结合的
یو موتی	[jaw'mu:ṭai]	(形)	团结的，一致的

阅 读

لنډه قصه

و نه و په پخوا وختو کښې یو ببروونکی غویی و . دا غویی ډېر غښتلی و . ده دوه ښکرونه او یوه جوړه رډې سترګې لرلې. د ده سترګو ته به هر څه واړه ښکاربدل. سپی د پیشو په اندازه. پیشو د موږک په اندازه او یو لوی سړی د یوه پنځه کلن ماشوم په لوړوالی. نو له دې امله د هیڅ شی څخه هم نه ببرېد . حُان یی امپراطور ګانه او خلک یی ډېر حُورول. دا خبره یوې ښاپیرۍ واورېده او ډېره په قهر شوه. دې د غویی سترګې یوې بټې ته ورکړې او غویی ته یی د بټې سترګې ورکړې . وروسته له دې غویی ته څرګنده شوه چه یو موږک دومره لوی و لکه یوه پیشو . یوه پیشو دومره لویه وه لکه یو سپی او یو پنځه کلن ماشوم دومره لوی و لکه یو لوی سړی . کله چه ده هر څه ستر ولیده ، نو ډېر نرم شو.

لغتونه

قصه	[ki'sa]	(阴)	故事，小说，短篇小说； 事件，事故；事情
پخوا	[pəkh'wa:]	(前置、形)	(在)……以前，从前； 以前的，从前的
ببرووونکی (وېرووونکی)	[beira'wu:nkai]	(形)	可怕的，吓人的
غویی	[ghwa'jai]	(阳)	公牛，牡牛
غښتلی	[ghəḥ'təlai]	(形)	强壮的，强有力的
ښکر	[ḥkər]	(阳)	角
جوړه	[dʒo'ṛa]	(阴)	双
ړه	[rəḍ]	(形)	(眼睛)瞪大的；无视的，卤莽的
ووړ	[woṛ]	(وړه،واړه، وړی) (形)	小的，很小的，小小的
سپی	[spai]	(阳)	狗
پیشو	[pi:'ʃo]	(阴)	猫
موږک	[mu:'ġak]	(阳)	鼠，耗子
اندازه	[anda:'za]	(阴)	程度；大小，尺寸；规模
لوړوالی	[lwəṛ'wa:lai]	(阳)	高度；高处，高地
امپراطور	[ampra:'tor]	(阳)	皇帝
امل	[a'mal]	(阳)	目的，目标；原因， 缘故，理由，根据
ببرېدل	[beirei'dəl]	(不及) (وببرېده)	害怕，恐怕，恐惧

حُورول	[dzawra'wəl]	(及) (و یی حُوراوه)	折磨，蹂躏；压迫，迫害；使生气，激怒
بناپیرۍ	[ḥapei'rəi]	(阴)	天使；仙女
په قارپدل	[pə ḳa:reidəl]	(不及) (په قار شو)	生气，动怒，发怒
بته	['bata]	(阴)	鹅
څرګندپدل	[tsargandei'dəl]	(不及) (څرګند شو)	变得明显，明白，清楚
لکه	['ləka]	(小品)	如，好像，类似；正如……的
ستر	[stər]	(形)	大的，巨大的；伟大的
نرم	[narm]	(形)	软的，柔和的，温和的

注 释

1. پښتانه د آریایانو یوه مشهوره څانګه ده. 普什图民族是古代亚利安人的一个重要分支。
2. دوی د یوه دین اسلام تابع دي. 他们皈依同一个宗教伊斯兰教。
3. 普什图语中动词原形可以在句中当成阳性、复数名词使用，其变格也同于阳性、复数名词。如：سرورکول، د شرف ساتل
4. بل 在句中是“他人”之意，与前面的 پخپله 相对应。
5. ونه وې په پخوا وختو کښې 寓言故事的开头语：“在很久很久以前...”。
6. یوه جوړه 这里的 جوړه 是量词，意为“一双”。
7. نو له دې امله 因此。

语 法

一般过去时 (二)

1. 不及物动词一般过去时的构成：依照主语的人称、性和格，用相应的过去时词尾取代原形动词词尾 ـل (或直接加在 ـل 上)，然后在动词之前加前缀 و。以 آزادېدل 、رسېدل 、كېدل (换成新根 شول)和为例，列表如下：

主语 / 例句	زه		ته		دی ، دا ، هغه	
	阳性	阴性	阳性	阴性	دی ، هغه	دا ، هغه
رسېدل	ورسېدم		ورسېدې		ورسېد	ورسېدله
كېدل	وشوم		وشوی		وشو	وشوله
آزادېدل	آزاد شوم	آزاده شوم	آزاد شوې	آزاده شوې	آزاد شو	آزاده شوله

主语 / 例句	مونږ		تاسی		دوی ، هغوی	
	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	阴性
رسېدل	ورسېدو		ورسېدئ		ورسېدل	ورسېدلې
كېدل	وشوو		وشوئ		وشول	وشولی
آزادېدل	آزاد شوو	آزادې شوو	آزاد شوئ	آزادې شوئ	آزاد شول	آزادې شولې

注：在 كېدل 同及物动词组成的动词结构中，前缀 و 应位于及物动词之前。如：

غونډه وځنډوله شوه.

会议延期了。 (被动语态)

مونږ ټول و بلل شوو.

我们全被邀请了。 (被动语态)

2. 系词“是”的一般过去时变位表：

زه	مونږ	ته	تاسی	دی ، هغه	دا ، هغه	دوی، هغوی	دوی، هغوی
وم	وو	وې	وئ	و	وه	وو	وې

3. 一般过去时否定形式的构成，是在紧靠动词的前边加小品词 نه 。如：

هغوی په خپل وخت و نه رسېدل .

他们没有按时到达。

دوی ډوډۍ و نه خورله .

他们没吃饭。

دوی زه آزاد نه کړم .

他们没有放开我。

带前缀 را ، در ، ور، پرې، پوری، کښې، پا 的动词， نه 加在前缀之后。如：

ما هیڅ شی ور نه کړ .

我什么东西也没给他（们）。

هغه کښې نه ناست .

他没有坐下。

常用的特殊变化动词

تلل 以 ولاړل 的根进行变化。

راتلل 以 راغلل 的根进行变化。

还有下表所列动词：

动词	阳性单数第三人称	复数第三人称
ختل	وخوت	وختل
کتل	وکوت	وکتل
خندل	ـــــ	وخندل
ویل	ـــــ	وویل
ژړل	ـــــ	وژړل

练习

1. 回答问题:

۱-پښتانه د کوم دین تابع دي ؟

۲-آیا پښتانه د آزادۍ او خپلواکۍ په ساتلو کښې سر ور کوي ؟

۳-ببروونکی غویی ولی ډېر نرم شو ؟

۴-تا خپل کتاب چېرې پرېښود ؟

۵-تا ته چا غږ وکړ ؟

۶- ورځمه شپه تورپېکۍ ستاسی کره میلمنه وه ؟

۷-زده کوونکو چېرته د فوتبال لوبه وکړه ؟

۸-بزګرانو ډېرې میوې ټولې کړې که لږې ؟

۹-تاسی له چا سره خبرې وکړې ؟

۱۰-هلکان په څو بجو له خوبه پاڅېدل ؟

2. 用下列介词为句子填空:

له ...سره (...سره)، له ...څخه (...څخه) په...کښې (پکښې) په ...پسې(...پسې)

۱- تا ... بریالی ... مرسته وکړه ؟

نه ، ور ... مې مرسته و نه کړه .

۲- تا ...بریالی... حُان ورساوه ؟

هو ، حُان مې ور ... ورساوه .

۳- ته ... کوم حُای ... راغلې ؟

۴- مونږ به ...هغوی ...زده کړه وکړو .

۵- تا ... دې درسونو ... ګټه واخسته ؟

هو ،ډېره ګټه مي ور ... واخسته.

٦- تا څوک ... ځان ... لوی د ډېوال ته بوت ؟

٧- هغه هلک کله ... مکتب ... شامل شو ؟

پرون ... شامل شو .

٨- دا کتاب دې... چا ... واخست ؟

٩- ته څنګه ... دې د ډېوال ... واوښتې ؟

هاسی ور ... واوستم .

١٠- کتابچی مو ...خپل منځ ... ووېشلې ؟

١١- ... چا ... دې مرسته وغوښتله ؟

١٢- د سړي بدن ... هډوکو او غوښو ... جوړ شوی دی .

١٣- هغه خپل کتاب ... ځمکې ... پورته کړ.

١٤- ته ... بریالی ... پېژندګلوی لرې؟ نه ، پېژندګلوی مې ور ... نشته .

3. 汉译普:

1) 这本书是我前天从市场上买来的。

2) 我很想帮他的忙。

3) 阿富汗人民热爱自由和独立，并努力维护自己的自由和独立。

4) 我们应该相信自己的力量，自力更生。(په خپلو پښو درېدل)

4. 熟读谚语:

لمر په دوو ګوتو نه پټېږي.

两个指头遮不住太阳。

د کال پنه والی د پسرلي څخه معلومېږي

一年之计在于春。

第二十七课　اوه ویشتم لوست

د لېوه سترګي

وایی چه یوه ورځ زمری، لېوه او ګېدړه یو ځای په ښکار ووتل ، نو یو خر ، یوه هوسی او یو سوی یی ښکار کړل. بیا زمری لیوه ته وویل چه ته دا ښکار وویشه. لېوه وویل چه خر دې ستا ، سوی د ګېدړې او هوسی دې وي زما . دا سم تقسیم دی. ده چه دا تقسیم وکړ ، نو د زمري طبیعت وشو ، پر ده یی ور ټوپ کړ، سترګي یی تړې په پنجو راوکښلې.

ګېدړه پوه شوه چه زمری خو ډېر په قار دی ، نو لېوه ته یی وویل چه خدای دې خوار کړه ! داسی ویش څوک کوي لکه تا چه وکړ ؟ بیا زمري ګېدړې ته وویل چه ته یی وویشه . هغې وویل : ښه ، دا خو آسان کار دی . خر به مانښام وخورې ، هوسی به سبا ته وساتې او په سوی به غانښونه اوس تاوده کړې.

زمري ور نه پوښتنه وکړه چه دا ویش دې له چا نه زده کړ ؟ هغې ځواب ورکړ چه دا مې د لېوه له سترګو نه.

لغتونه

لېوه	[lei'wə]	(阳)	狼
زمری	[zma'rai]	(阳)	狮子
ګېدړه	[gei'dəṛa]	(阴)	狐狸
ښکار	[ḫka: r]	(阳)	打猎， 捕; 猎物， 野味

(لېوان یا لېوګان)

پەنبکاروتل			外出打猎
خر	[khar]	(阳)	驴
هوسی	[ho''səi]	(阴)	鹿
سوی	[soi]	(阳)	兔子
بنکارکول			打猎，打围；猎获，捕获
دې	[dei]	(小品)	让，听凭
تقسیم	[tak'si:m]	(阳) (تقسیمونه یاتقسیمات)	分，分配，分割
تقسیمول	[taksima'wəl]	(及) (تقسیم یی کړ)	分，分配，分割
طبیعت	[tabi:'at]	(阳)	本性；脾气；情绪
توپ	[top]	(阳)	跳，跃
تړې	[trei]		在他（她、他们）那里；从他（她、他们）那里
		(当副词用)	
پنجه	[pan'dʒa]	(阴)	手掌；脚掌，爪，爪子
کښل	[khəl]	(及) (کاږي، و یی کیښ)	拉，拖
قار(یا قهر)	[ka:r]	(阳)	愤怒，生气
خدای	[khudai]	(阳)	真主；上帝
خوار	[khwa:r]	(形)	贫穷的；可怜的；不幸的
وېش	[weiʃ]	(阳)	分，分配
آسان	[a:'sa:n]	(形)	容易的，轻易的，简单的
ساتل	[sa:'təl]	(及) (وی ساته)	保卫，保护；保存，保藏

ځواب	[dza'wa: b]	(阳)	回答，答复；拒绝
تودول	[tawda'wəl]	(及) (تودیی کړ)	温，热，加温，加热

دیالوګ

د زمرک پلار : زمرکه ، غوږ ونیسه . د انګړ دروازه وهل کېږي. په دې وخت کښې به ځوک وي ؟ هله، دروازه ببرته کړه!

زمرک (دانګړ دروازه ببرته کړه. بریالی یی ولید) : بریالیه ، ته یې ؟

بریالی : زمرکه، دا لیک واخله ! دا لیک مې پلار راکړی دی. هغه دا لیک ستا د پلار دپاره راکړی دی وا یی خله .

زمرک (لیک واخیست او بریالي ته یی تشکر وکړ . بیا خپل پلار ته): پلار جانه، دا لیک بریالي راوړی دی. لیک د بریالي پلار رالېږلی دی. لیک یی ستا دپاره رالېږلی دی.

د زمرک پلار : ډېر ښه وشو. دا لیک زما ملګری د بریالی د پلار په لاس د کابل نه رالېږلی دی (لیک یی ببرته کړ او ویی لوست. د لیک په لوستلو خوښ شو.)

لغتونه

غوږ نیول			听；倾听
وهل	[wa'həl]	(及) (و یی واهه)	打，击，揍；砍，劈
هله	['hala]	(感)	(催促)快
ببرته کول	[beirtaka'wəl]	(及)	推开，打开
جان	[dʒa: n]	(阳)	(爱称)亲爱的

注 释

1. وایی چه 据（人们）说。

2. یوه ورځ 某日，某一天，副词。

3. خر دې ستا (وي) 这句话的译文应是“驴子当然属于你。”

4. ده چه دا تقسیم وکړ ... 当他做这样的分配之后……

چه 引出的是时间从句。

5. (د چا) طبیعت وشو （某人）发火了。（某人）发脾气了。

6. خدای دې خوار کړه! 你这个该死的！

7. لکه تا چه وکړ 你（刚才）分配的那样。

تاچه دا ویش وکړ 即 تا چه وکړ

8. غابنې تودول （稍许）充饥。

语 法

祈使句。句法的祈使句在词法上又称命令式，用来表达请求、命令或劝告等，用于单数或复数第二人称（主语是“你”或“你们”，通常不在句子中出现）。普什图语的祈使句有两种：一般祈使句和继续祈使句。一般祈使句用来表示要求“开始做”某一件事，其动词的构成方法是，单数第二人称把将来趋向时单数第二人称词尾 ې 变成 ه；复数第二人称与将来趋向时复数第二人称的形式相同。继续祈使句用来要求对方“继续做”某一件事，其动词的构成方法是，单数第二人称把一般现在时的人称词尾

ې 变成 ه；复数第二人称与一般现在时复数第二人称的形式相同。见下表：

祈使句		一般祈使句		继续祈使句	
例词		单数	复数	单数	复数
及物动词	كتل	وګوره	وګورئ	ګوره	ګورئ
	ليکل	وليکه	وليکئ	ليکه	ليکئ
	پاکول	پاک کړه	پاک کړئ	پاکوه	پاکوئ
	کول	وکړه	وکړئ	کوه	کوئ
不及物动词	وتل	ووزه	ووزئ	وزه	وزئ
	راتلل	راشه	راشئ	راځه	راځئ
	پاحبدل	پاځېږه	پاځېږئ	پاځېږه	پاځېږئ
	پخلا کېدل	پخلا شه	پخلا شئ	پخلا کېږه	پخلا کېږئ

注：一般祈使句 پاځېږئ، پاځېږه 重音在 پا 上，继续祈使句 پاځېږئ، پاځېږه 重音在 څې 上)。

用法举例：

دا کتاب واخله !

把这本书拿走吧!

راځئ چه بازار ته ځو !

我们到市场去吧 !

یوه چاره راوکړه !

给我想个办法吧!

راځئ چه ځو !

我们走吧 !

祈使句的否定式，是在动词前边加禁止小品词“ مه ”。如：

مه خپه کیږه ! (خپه کیږه مه)

你别生气。

ته نن مه ځه !

你今天别走了。

مه پوری خانده چه در پوری و نه خاندي

(谚语) 不要嘲笑别人，以免别人嘲笑你。

لغتونه

چاره	[tʃa:ʹra]	(阴)	手段，方法；出路
خپه	[khaʹpa]	(形)	伤心的，愁闷的，忧愁的；生气的，不满的
خندل	[khan ʹdəl]	(及) (خاندي، و یی خندل)	笑
په چا پوری خندل			嘲笑，讥笑

练 习

1. 回答下列问题：

١-زمری ، لپوه او ګیدړي څه شی ښکار کړل ؟

٢-لپوه ښکارونه څنګه ووښل ؟

٣-زمری د لپوه له وښ څخه خوښ شو ؟ زمری په لپوه باندی څه وکړل ؟

٤-زمری د ګیدړي څخه څه پوښتنه وکړه ؟ د ګیدړي ځواب څه و ؟

٥-زما خبره دي یاده ده که نه ؟

٦-تا خپل کوچنی ورور چیری ولیږه ؟

٧-تاسی د مانښامی (傍晚的) ډوډۍ نه وروسته څه کوئ ؟

٨-زه ستا خبره اورم، ته زما خبره اورې ؟

2. 普译汉:

١-دا کتابونه په هلکانو ووېشه !

٢-دغه پورته سړي ته ووایه چه راکښته شی.

٣-دا خو دې ښې خبرې راته وکړې.

٤-بریالی خپل امتحان ور کړ. اوس د توریالی وار دی چه امتحان ورکړي.

٥-کله چه توریالی راشي ماته ووایه !

٦-دېوال پرېووت ، موټر ور لاندی شو .

٧-زمرک را پسی راروان دی.

٨ -پنځه ګوتې سره یو نه دی.(谚语)

٩-تر پښو لاندی ځمکه مه ګوره، لېری واتن (距离)ګوره. (谚语)

3. 选词填空 (څو ، څومره، څووم) :

١-د پښتو د زده کړې د پاره ... وخت په کار دی ؟

٢-هغه په خپل ټولګی کښی ... لمبر دی ؟

٣-بریالی ... زامن لري ؟

٤-ته د ... کلو یې؟

٥-ستاسی په پوهنځی کښی... زده کوونکي دي.

4. 汉译普:

1) 请谈谈喀布尔春天的情况。

2) 长城是中国的历史古迹之一。

3) 这里气候温暖，树木四季长青。

4) 在华南的许多地方冬季只下雨，不下雪。

第二十八课　　اته ویشتم لوست

ابراهام لینکن

ابراهام لینکن به تل د امریکې په تاریخ کښې یو لوی اتل وي. هغه د ډېرې لوړې سجیې خاوند و. هغه ساده، زیارکښ او ډېر درستکار و. هغه دیموکرات و. هغه د ایالتونو د یووالی ټینګ ملاتړ کاوه او د غلامۍ ځُنځُیر د ماتولو دپاره یې نه ستومانه کېدونکی مجادله کوله. هغه په بنې او سلوک کښې هم امریکایی و. هغه لوړ او قوي و. د هغه مخ پوره ښکلی نه و، خو د هغه خبرې په مهربانۍ وې. هغه خپلو کالیو ته لږه توجه کوله چه تل به ښه نه ښکارېدل. دا حقیقی ده چه ټول امریکایان لوړ او قوي نه دي او نن ډېر ښه کالی اغوندي، خو زمونږ په فکر کښې سوچه امریکایی هم داسی سړی دی لږ و ډېر لکه ابراهام لینکن، د امریکې د وخت جمهور رئیس.

لغتونه

تل	[təl]	(副)	总是，始终，经常，永远
امریکه (یا امریکا)	[ari:'ka]	(阴)	美国
تاریخ	[ta:'ri:kh]	(阳)	(月之某)日，号；纪元；历史
اتل	[a'tal]	(阳)	杰出的人；壮士，勇士，英雄
سجیه (سجایا)	[sadʒi'ja]	(阴)	本质，品质
خاوند	[kha:'wənd]	(阳)	主人，所有者；拥有者
ساده	[sa:'da]	(形)	简单的；纯朴的；不聪明的

زیارکښ(یا زیارایستونکی)	(形)	[zija:r'kaḥ]	努力的，勤奋的，勤劳的
درستکار	(形)	[drust'ka:r]	正直的，诚实的，可靠的
ایالت	(阳)	[ija:'lat]	省，（美国的）州
دیموکرات	(形、阳)	[deimok'ra:t]	民主的；（美）民主党党员
یووالی	(阳)	[ja'wa:li]	团结；统一，联合
ملاتړ	(阳)	[mla:'taṛ]	支持，支援；增援；支持者
غلامی	(阴)	[ghula:'mi:]	奴隶身份；奴隶
څنځیر	(阳)	[dzand'zi:r]	链条；镣铐；绳索
ماتول	(及)（مات یی کړ）	[ma:ta'wəl]	打破，打碎，粉碎
نه ستومانه کېدونکی			
	(形)	[nastoma:'na kei'donkai]	不懈的，不知疲劳的
مجادله	(阴)（مجادلی یا مجادلات）	[mudʒadi'la]	争论，争吵；斗争，奋斗
بڼه	(阴)	[ba'ṇa]	面貌，外表，样子
سلوک	(阳)	[su'lu:k]	姿态，形象；待人的态度
امریکایی	(形、阳)	[amrika'i:]	美国的；美国人
قوي	(形)	[ḳa'wi:]	有力量的，强有力的
پوره	(形)	[pu:'ra]	完全的，充分的，整个的
مهربانی	(阴)	[mehrba:'ni]	善意，好意；好心肠，仁爱
توجه	(阴)	[tawa'dʒo]	注意，注意力
حقیقی	(形)	[haḳi:'ḳi:]	实在的，真正的，现实的
فکر	(阳)	[fikr]	思想，思维，思考；

سوچه	[su:'tʃa]	(形)	意见，见解；注意，注意力
لږوډېر	[ləgu'deir]	(副)	纯粹的，纯的；没毛病的
رئیس	[ra'i:s]	(阳)	多多少少；到某种程度
			首长，长官；局长；
			(大学)校长，院长
جمهور رئیس	[dʒum'hu:r ra'i:s]	(阳)	总统

ديالوگ

۱- ډېر وخت می نه یی لیدلی ، چېرته وې ؟
زه دلته وم ، خو په کار بوخت وم .

۲ -څه کار ؟
تېزس مې لیکه .

۳- تېزس دې د څه شی په باره کښی و ؟
د افغانستان د ژبو په باره کښی و .

۴- خلاص دې کړ؟
لا خلاص شوی نه دی . خو ژر به خلاص شي .

۵- څومره وخت دې ور باندی کار کاوه؟
څه کم شپږ میاشتې مې ور باندی کار کاوه.

۶- مضمون یی په زړه پوری دی ؟

حُینو ته په زړه پوری دی، نورو ته په زړه پوری نه دی.

۷- ته څنګه ؟ تا ته په زړه پوری دی؟

د ژبو سره زه خصوصی علاقه لرم. ما په خپله هم په ژبو باندی یو کتاب پیل کړی دی.

لغتونه

بوخت (یا بخت)	[bukht]	(形)	忙碌的
تېزس	[tei'zis]	(阳)	论文
څه کم	['tsə'kam]	(副)	不到一点，略少一些
مضمون (مضمونونه یامضامین)	[maz'mu:n]	(阳)	内容，主题，题材；课目
خصوصی	[khusu:'si:]	(形)	特殊的；专门的；私人的
علاقه (علاقې یا غلایق)	[ala:'ka]	(阴)	关心，关切，兴致； 联系，关系
پیل کول	[pail ka'wəl]		开始，开头，动手，着手

注释

1. هغه د ډېرې لوړې سجیی خاوند و. 他具有非常高尚的品格。

   خاوند ... د 是固定用法，表示“拥有”。

2. ملاتړ کول ... د支持……

3. ته توجه کول....注意……，关注……

4. چه تل به بنه نه بنکاریدل （他的衣着）总是显得不是很好。句中的 چه 引出从句，补充主句的意思。

5. زمونږ په فکر کښې 我们的思想里 （在我们看来）。

6. په...بوخت 忙于……如：زه په کار بوخت یم. 我在工作。

7. په...باندی کار کول 从事……方面的工作。

خومره وخت دې وربانډی کار کاوه؟ 你写论文写了多长时间啦？

8. زه خصوصی علاقه لرم. 我对语言 （研究）有着特殊的兴趣。

9. ما په ژبو باندی یو کتاب پیل کړی دی. 我已经着手写一本关于语言的书。

په (یوه کار) پیل کول 是固定用法，意为开始做 （从事）某件事。

10. د وخت جمهور رئیس 当年总统

语 法

过去进行时 （一）

过去进行时是表示过去某一时期正在发生的行为或情况。如：

ما غوښتل چه د ځان د پاره کمیس واخلم.

我想着给自己买件衬衣。

له بریالی سره غږیدم چه توریالی راغی.

我正和巴里亚莱说话的时候土里亚莱来了。

کله چه زه کوچنی وم د هغه سره می لوبې کولې.

我小时候总和他一起玩耍。

1. 及物动词过去进行时的构成：在原形动词词尾 ل 上加上各人称词尾。主语用变格，宾语用原格。以 ليدل 为例，列表如下：

第三人称单数		第二人称单数		第一人称单数		宾语 / 主语
阴性	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	
ليدله	ليده	ليدلې	ليدلې			ما، مونږ
ليدله	ليده			ليدلم	ليدلم	تا ،تاسى
ليدله	ليده	ليدلې	ليدلې	ليدلم	ليدلم	ده، دې، هغه،هغې، دوى ،هغوى

第三人称复数		第二人称复数		第一人称复数		宾语 / 主语
阴性	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	
ليدلې	ليدل	ليدلئ	ليدلئ			ما ، مونږ
ليدلې	ليدل			ليدلو	ليدلو	تا ، تاسى
ليدلې	ليدل	ليدلئ	ليدلئ	ليدلو	ليدلو	ده، دى، هغه،هغى، دوى، هغوى

及物动词 كول 的过去进行时第三人称变位表：

第 三 人 称				宾语 / 主语
复 数		单 数		
阴性	阳性	阴性	阳性	
كولې	كول	كوله	كاوه	ما ، مونږ ،تا ، تاسى ده، دى، هغه،هغى، دوى، هغوى

形容词性及物动词的变位，以 آزادول 为例，列表如下：

第三人称单数		第二人称单数		第一人称单数		宾语 / 主语
阴性	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	
آزاده کوله	آزاداوه	آزاده کولی	آزادولی			ما ،مونږ
آزاده کوله	آزاداوه			آزاده کولم	آزادولم	تا ، تاسی
آزاده کوله	آزاداوه	آزاده کولې	آزادولې	آزاده کولم	آزادولم	ده، دی، هغه،هغی، دوی، هغوی

第三人称复数		第二人称复数		第一人称复数		宾语 / 主语
阴性	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	
آزادی کولې	آزادول	آزاد ی کولئ	آزاد ولئ			ما، مونږ
آزادی کولې	آزادول			آزادی کولو	آزادولو	تا ، تاسی
آزادی کولې	آزادول	آزادی کولئ	آزادولئ	آزادی کولو	آزادولو	ده، دی، هغه،هغی، دوی، هغوی

练 习

1. 回答下列问题：

١- ابراهام لینکن څوک و ؟

٢- آیا لینکن د امریکې د ایالتونو د یووالی ملاتړ و ؟

٣- لینکن خپلو کالیو ته ډېره توجه کوله که لږه ؟

٤- تا خپل ورور له حُانه سره راووست ؟

٥- دا موټر چا راوستلی دی ؟

٦- دی د څو کالو و چه په زده کړه یی پیل وکړ ؟

٧- پرون په امتحان کښی بریالی له چا سره نژدې ناست و ؟

٨- دا کتاب د چا دپاره اخلې ؟

٩- ته د خپل ښوونکی خبرو ته غوږ نیسې ؟

2. 普译汉:

١- آسمان صاف. شمال ورو ورو چلیده. د سیند په غاړه دوه تنه حُلمیان ولاړ وو.
دوی د سیند پوری غاړې ته کتل. د یوه په لاس یو کتاب و او بل ته یی لوسته.

٢ - پرون مانښام په انګړ کښی گرځیدم، خپل ملګری مې له لیرې ولید.

٣- دا هغه قلم نه دی چه پرون مې ورباندی کار وکړ.

۴- د لوبې په حُای دې ولی کورنی کار نه کاوه ؟

۵- که ته زمونږ له کاله تپریږې، زما ورور ته ووایه چه زه د غرمې ډوډی ته نه در حُم. تاسی په خپله ډوډی وخورئ او ما ته مه گورئ.

۶ - متل: د هر سر دپاسه (在上面，在...上头) سر دی. (谚语)

3. 汉译普:

1) 我总想天天和他们在一起。 (过去进行时)

2) 我想和你谈几句话。 (خو خبرې)

3) 他想休息一会儿。

4) 你应当现在就告诉他。 (همدا اوس)

5) 这件事你不应当再干下去了。 (ادامه)

6) 我该怎么办?

7) 我们中间没有一个人懂波斯语。 (فارسی)

8) 桌子上没有一本书是我的。

9) 这里没有一件衬衣是我喜欢的。

نه ویشتم لوست　　第二十九课

طوطی او پیل مرغ

یوه سړي یو ښکلی طوطی درلود . هغه یی د خرڅولو دپاره بازار ته یووړ . خلک پرې راټول شول، یوه ویل زه یی اخلم او بل ویل زه یی اخلم . آخر یی په څلویښت افغانۍ خرڅ کړ . پیسې یی واخیستې او لاړ. یو ساده سړی و ، دا قیصه یی ولیده ، په منډه کور ته ولاړ ، خپل پیل مرغ یی له ځان سره بازار ته راوړ. یوه دکاندار ځنی پوښتنه وکړه : دا چرگ خرڅوې ؟ دې ساده سړی ته طوطی او پیل مرغ یو شان ښکاره کېده ، د دواړو په فرق نه پوهېده ، دستی یی د پیل مرغ پر شا لاس تېر کړاو ویی ویل : هو! خرڅوم یی . خو له دوو سوو روپو کم نه دی .

دکاندار دې خبرې ته حیران شو او په خندا یی وویل : کاکا ! لږ فکر وکړه چه پیل مرغ څوک په دوو سوو افغانیو اخلي ؟ هغه وویل : یو ساعت دمخه دې ونه لید چه یو طوطی په څلویښت افغانۍ خرڅ شو ؟ پر دې خبرې باندی ټولو وخندل . دکاندار ورته وویل : هغه مرغه چه دمخه خرڅ شو طوطی و . طوطی خبرې زده کوي او بیا خبرې کوي . گهیځُ وختی پاڅېږي ، د کور خلکو ته سلام اچوي ، ور ته وایی "ورځُ مو ښه تېره شه !" په کور کښی د ببلا ببلو خلکو نومونه پېژني، آواز ور ته کوي . نو ووایه ستا چرگ څه کمال لري ؟ هغه په خندا شو او ور ته و یی ویل : نه گورې چه پیل مرغ زمونږ او ستاسی په شان فکرکوي ؟

لغتونه

طوطی　[tu'ti:]　(阳)　鹦鹉

پیل مرغ	[pi: l′mụrgh]	(阳)	火鸡，吐绶鸡
څلویښت	[tsal′weiḥt]	(数)	四十
پیسه	[pai′sa]	(阴)	钱，钱币
منډه	[′mənḍa]	(阴)	跑
راوړل	[ra: w′rəl] (رابی ووړ)	(及)	拿来，带来；获得，得到；引用
دکاندار	[duka: n′da: r]	(阳)	买卖人，商店主人
چرگ	[tʃirg]	(阳)	公鸡，雄鸡
شان	[ʃa: n]	(阳)	样子，式样；方式，方法
فرق	[farḳ]	(阳)	区别，不同
دستی	[das′ti:]	(副)	立刻，马上，即时
شا	[ʃa:]	(阴)	背，脊背；后方
کم	[′kam]	(形)	小的，很小的；少的，很少的
حیران	[hai′ra: n]	(形)	惊愕的，惊讶的
کاکا	[ka: ′ka:]	(阳)	伯伯，伯父；叔叔，叔父
افغاني	[afgha: ′ni:]	(阴)	阿富汗尼（阿富汗货币名称，简称阿尼）
مرغه	[mur′ghə]	(阳)	鸟，雀鸟
گهیځ	[ga′hi: dz]	(阳)	早晨，清晨
وختی	[wakh′ti:]	(副)	早，初；预先，事先；及时
اچول	[atʃa′wəl] (وا یی چاوه)	(及)	投，扔，抛出；放，搁；倒，撒
بېل بېل (بیلا بیل)	[beil ′beil]	(形)	不同的，各种的，各种各样的

آواز	[a:'wa:z]	(阳)	声音，响声
كمال	[ka'ma:l]	(阳)	才能，才干，本领；精美，完美
فكركول			思考，思维

阅读

قصه

مېږی او کوتره

کوتري په اوبو کښی يو مېږی ولید . اوبه ډېرې زياتې وې. مېږی په اوبو کښی ډوبېده . کوتري وغوښتل چه يو د ثواب کار وکړي . هغې يوه پانه په اوبو کښی واچوله.

مېږی په پانه را پورته شو . مېږی د اوبو نه راووت. مېږی د کوتري سره دوست شو.

مېږی يو ښکاری ولید . ښکاری کوتره ښکار کوله . مېږی د ښکاری خوا ته ولاړ . مېږی هم وغوښتل يو د ثواب کار وکړي. مېږی د ښکاری پښه وچيچله . د ښکاری لاس ورېږدېد . کوتره والوته . کوتره هم د مېږي سره دوسته شوه.

لغتونه

مېږی	[mei'gai]	(阳)	蚂蚁
کوتره (کفتر)	[kaw'tara]	(阴)	鸽子

زيات	[zi′ja: t]	(形)	多的，很多的
		(副)	多，很多，许多
ډوبېدل	[ḍu: bei′dəl]	(不及) (ډوب شو)	沉没，沉入（水中）； (太阳)落下；
			思索，沉思
ثواب	[sa′wa: b]	(阳)	报酬，奖赏，奖励；善事
پانه	[′pa: ṇa]	(阴)	叶子；张，页，薄片
دوست	[dost]	(阳)	朋友，好朋友
چيچل	[tʃi: ′tʃəl]	(及) (ويى چيچه)	咬；刺，蛰
ريږدېدل	[reigḍei′dəl]	(不及)	发抖，哆嗦，打颤，颤抖

注释

1. يوور ... ورل 的一般过去时 هغه يى د خرڅولو لپاره يوور 句子中 是动词 阳性、单数变位形式。هغه 指 طوطى 。

2. يوه ويل زه يى اخلم او بل ويل زه يى اخلم 这个（人）说我要买，那个（人）说我要买。句中用的是过去进行时态，描绘人们挣着要买鹦鹉的热闹场面。

3. د پيل مرغ پر شا يى لاس تېر كړ 他用手摩挲（抚摩）了一下鹦鹉的后背。

4. له ... نه كم نه دى 不比……少，不少于……；不比……差。

5. ... ته حيران شو 对...感到惊讶。另一种表达方法：

هغه حيران پاتى شو 他惊呆了。

6. پر دې خبرې باندى ټولو وخندل 听了他的话，大家都笑了起来。该句不

突出“嘲笑”的意思。“嘲笑（讥笑）”的表达方式是 پەپورى خندل 。

7. ورتە آواز وكړە！（چاتە）召唤，喊叫。如：ورتە آواز وكړە！把他叫来！

8. هغە پەخندا شو. 他笑了起来。

9. د...پەشان 像...一样地

语 法

过去进行时（二）

1. 不及物动词过去进行时的构成：在原形动词词尾 ل 上加上各人称词尾。主语用原格。以 پاڅېدل 、 كېدل 和 آزادېدل 为例，列表如下：

主语/例词	زه		ته		دى، دا، هغه	
	阳性	阴性	阳性	阴性	دى، هغه	دا، هغه
پاڅېدل	پاڅېدلم		پاڅېدلې		پاڅېده	پاڅېدله
كېدل	كېدلم		كېدلې		كېده	كېدله
آزادېدل	آزاد كېدلم	آزاده كېدلم	آزاد كېدلې	آزاده كېدلې	آزاد كېده	آزاده كېدله

主语/例词	مونږ		تاسى		دوى، هغوى	
	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	阴性
پاڅېدل	پاڅېدلو		پاڅېدلئ		پاڅېدل	پاڅېدلې
كېدل	كېدلو		كېدلئ		كېدل	كېدلې
آزادېدل	آزاد كېدلو	آزادي كېدلو	آزادي كېدلئ	آزادي كېدلئ	آزادي كېدل	آزادي كېدلې

注：پاڅېدل 的过去进行时同一般过去时的形式一样，其区分的方法上，重音读在第一个音节上为一般过去时，重音读在 د 上为过去进行时。

له خوبه پاڅېدَم.（一般过去时） له خوبه پاڅېدم（过去进行时）。

2. 过去习惯时：过去习惯时用来表示在过去的时间里习惯的行为或情况。其构成方法是在过去进行时动词之前加小品词“ به ”。举例：

دی به خپل مخ په‌لاسونو پټاوه او د ډېر وخت دپاره به یې خندل.

她习惯于用手捂着脸，长时间笑个不停。

وروسته له هغه به یې هر کال دغه کار کاوه.

从那以后，他们每年都做这件事。

هغه به په خپل لاس اسیرو ته ډوډۍ ورکوله.

他亲手给俘虏送饭。

هغه به ټوله ورځ دا خوا او ها خوا منډې وهلې.

他总是整天到处奔跑。

لغتونه

پټول	[pəṭa'wəl]	(及) (پټ یې کړ)	藏，隐藏；盖上；隐瞒，掩盖
اسیر	[a'si:r]	(阳)	被俘者，俘虏
منډه وهل			跑，奔跑，跑步

练习

1. 回答下列问题：

۱-د طوطی خاوند خپل طوطی په څو خرڅ کړ؟

۲-ساده سړي د څه دپاره خپل پیل مرغ بازار ته یوړ؟

۳-طوطی ولی د خلکو خوښ دی؟

۴-ته به د پوهنځي د رخصتۍ په ورځو کښې د خپل نیکه د خبر اخستلو (打听，获得消息) دپاره هانګجو ته ځې؟

۵-په دې دنیا کښی کوم کوم شیان الوزي ؟

۶-ستاسی په ځای کښی د څه شی ښکار پیدا کېږي ؟

۷-بریالی څوک په شا کړ (背) او تر خپل کور پوری یی ورساوه ؟

۸-ګیلاس دې تش دی . اوبه پکښی (中其在) واچوم ؟

2. 普译汉:

۱-دا خو هغه شی دی چه ما لټاوه .

۲-له تورپیکی سره غږېدم چه ملالی راغله .

۳-زه باغ ته تللم . بریالی را ته وویل چه ما در سره بوځه . نو ما را سره بوته .

۴-په ما څو دقیقې ناوخت شو .

۵-د شا و خوا (的围周) ځایونو کوچنیانو به په دې باغ کښی لوبې کولې.

۶-هغه د خپلو ملګرو سره د خدای پامانې وکړه او په خپله بازار ته ولاړ .

۷-نور دې څوک راوستل ؟ نور مې څوک را نه وستل .

۸-کله به یی راوړې ؟ نن به خپل ورور ور ولېږم .را به یی وړې .

۹-متل : چه ډېر وایی ، لږ خېژي . (谚 语)

۱۰-متل :پاک اوسه ، بی باک (及所顾无) اوسه. (谚 语)

3. 汉译普 (用过去进行时):

1) 去年夏天我每天游泳。

2) 我在杭州时每天早晨六点钟起床。

3) 我在北京整整生活了二十年。

4) 上星期天 (تېره یک شنبه) 我整天在家里看书。

5) 昨天晚上八点钟我在家做作业。

6) 当巴里亚莱进屋的时候，土里亚莱正在打电话。

دپرشم لوست　　第三十课

سپورټ

سپورټ په اوسنۍ نړۍ کښې د ژوندانه له ضروریاتو څخه شمېرل کېږي. سپورټ ورځُ په ورځُ نوی شکلونه مومي او ډېر ژر ژر مخ په وړاندی حُي. سپورټ د بنیادم د روغتیا او د غړو د قوي کېدلو بنه وسیله ده. سپورټ د سړي وینه پاکوي، کمزورتیا او لتې ورکوي او وجود غښتلی کوي. پوهان وایي چه له سپورټ څخه ټینګار، غیرت او د غړو فعالیت پیدا کېږي. پوهان دا هم وایي: د وینې ډېروالی او پاکوالی، د زړه او غړو روغتیا او د بدن بنکلا هم په سپورټ پوری اړه لري.

سپورټ د کار او فعالیت وسیله ده چه د هغه په سبب سړی له ژوند څخه بنه خوند او ګټه اخلي. نو څرګنده شوه چه سپورټ د هر چا دپاره یو طبیعی او ضروری کار دی. دا وجه ده چه هر ملت د خپل ملی ذوقه سره سم د سپورټ جلا جلا لوبې لري. مګر اوس حُینی لوبې په شریک ډول رواج شوی دی او سپورټی لوبو په ټوله نړۍ کښې یو ګډ رنګ غوره کړی دی.

د نړۍ په هیوادونو کښې د سپورټ دپاره راز راز مؤسسې او کلوبونه جوړ شوی دي او د سپورټ زده کړه د پوهنې په پروګرامونو کښې شامله ده. اوسنی خلک لوی او واړه، نر او بنځُې د خپل ژوند له شرطونو سره سم هره ورځُ یو راز سپورټ کوي. څوک د والیبال، فوتبال، هاکی، منډې او پهلوانۍ په لوبو کښې برخه اخلي او څوک حُانله په کور کښې هر سهار ادمان کوي او یا پلی ګرځُي. ښایی چه هر څوک د یوټاکلی پروګرام له مخه څه نه څه سپورټ وکړي او خپله روغتیا وساتي.

لغتونه

سپورټ	[sport]	(阳)	运动，体育运动，体育活动
یا	[ja:]	(连)	或，或者，或是
نړۍ	[na'ṛəi]	(阴)	世界
ژوندون	[ʒwən'du:n]	(阳)	生活，生命，生存
ضروریات	[zaru:ri'ja:t]	(阳、复)	日用（必需）品
شکل	[ʃakl]	(阳)	样子，外形；图画；人物
وړاندی	[w'ṛa:ndi]	(副)	在前面，前面；往前
مخ په وړاندی تلل			前进，向前进
بنیادم	[bania:'dam]	(阳)	人们；人类
روغتیا	[rogh'tia:]	(阴)	健康
وسیله	[wasi:'la]	(阴)	手段，方法；理由；帮助
کمزورتیا	[kamzor'tia:]	(阴)	虚弱，没力气，软弱
لته	['laṭa]	(阴)	懒惰，没精神，冷淡
ورکول	[wrəka'wəl]	(及) (ورک یې کړ)	丢失，失去；消除，排除；消灭
ټینګار	[ṭin'ga:r]	(阳)	坚固性，坚强性；坚决性；坚持
غیرت	[ghai'rat]	(阳)	自尊心；热情，热心；英勇，勇气
فعالیت	[faali'jat]	(阳)	积极性；活动；行动，行为
ډیروالی	[deir'wa:lai]	(阳)	增加；扩大；增多

پاکوالی	[pa: k'wa: lai]	(阳)	清洁；纯洁
ښکلا	[ḫkə'la:]	(阴)	美丽，美妙，美观
اړه	['aṛa]	(阴)	关系，联系；需要，要求，需求
سبب	[sa'bab]	(阳)	原因，缘故，理由；手段，方法
خوند	[khwand]	(阳)	味道，滋味；趣味
ضروري	[zaru:'ri:]	(形)	必须的，必要的； 重要的，要紧的
وجه	['wadʒa]	(阴)	原因，理由，动机； 根据；方面
ملت	[mi'lat]	(阴)	国民，民族
ذوق	[zawk̤]	(阳)	甘愿，愿望；愉悦， 喜悦，高兴；鉴别力
د..سره سم			依照，按照，根据；适合于
جلا	[dʒə'la:]	(形)	单独的，独立的； 分开来的，分立的
رواج	[ra'wa: dʒ]	(形)	通常的，照例的， 通行的，普及的
		(阳)	通用，流通，通行
سپورتی	[spor'ṭi:]	(形)	运动的；体育的
گډ	[gaḍ]	(形)	混合的，混杂的；合流的； 共同的，联合的
غوره	['ghwara]	(形)	精选的，极好的，优秀的

غوره کول			挑选，选择；赞成
مؤسسه	[muassa'sa]	(阴)	企业；机关；商号
کلوب	[klu:b]	(阳)	俱乐部
زده کړه	[z'dakra]	(阴)	学习
پوهنه	[po'həna]	(阴)	知识，学识；学习；教育
پروګرام	[prog'ra:m]	(阳)	纲领；计划；节目；意图
اوسنی	[osa'nai]	(形)	现在的，现今的，现时的
نر	[nar]	(阳)	公的，雄；男人，男子；勇士
والیبال	[wa:li:'ba:l]	(阳)	排球
هاکی	[ha:'ki:]	(阳)	曲棍球；冰球
پهلواني	[pahlawa:'ni:]	(阴)	角力，摔跤
برخه اخستل			参加，参与
ځانله	['za:nla]	(副)	自己，本人；单独地，独自一人地
ادمان	[id'ma:n]	(阳)	体操
تاکلی	[ṭa:'kəlai]	(形)	指定的，规定的

دیالوګ

زمرک : توریالیه، دا دروازه به خلاصه کړې ؟

توریالی : هو ! دروازه به خلاصه کړم . خو کلی نه لرم . ودرپرې چه کلی پیدا کړم .

زمرک : تا زه غوښتم ؟

توريالی : هو! ته مې غوښتې . دروازه مې خلاصه کړې ده. لږ يی ټپل واهه!
زمرک : پخپله به خلاصه شي . خيريت و ؟
توريالی: هو! خيريت و . ما غوښتل چه دی د ځان سره ښار ته بوځم .

زمرک : څه دپاره ؟
توريالی : دا بلن ليک واخله ، و يی لوله.

زمرک : دا بلن ليک د چا له خوا دی ؟
توريالی : د بريالی له خوا . مونږ د هغه مېلمانه يو .

زمرک : ښه ده . يوه شېبه ودرېږه . زه دغه دی درغلم .
توريالی : لطفاء دروازه پوری کړې .

لغتونه

کلي	[ki'li:]	(阴)	钥匙
پيدا کول			发现，发觉，找到；创立，创建
ټپلوهل (يا ټپل وهل)	[ṭeilwa'həl]	(及) (ټپل يی واهه)	推，推动；拥挤；打退，击退
خيريت	[khairi'jat]	(阳)	平安，安宁；善良
بوتلل	[bot'ləl]	(بوزي، بوت يی)	参看بيول
بلن ليک	[balən'li:k]	(阳)	请帖，请柬
لطفاً	['lut'fan]	(副)	请(表示客气、亲切)
پوری کول	[pori-ka'wəl]	(及) (پوری يی کړ)	关，闭，关上；贴，附

注释

1. د ژوندانه له ضروریاتو څخه شمېرل 被视为生活必须的内容之一。
2. ورځ په ورځ نوی شکلونه مومي 一天天地出现新的面貌。
3. په ... پورې اړه لري 与……有关系；和……有联系。
4. د هغه په سبب 由于，因为(体育运动)。
5. له ژوند څخه خوند اخستل 享受生活的乐趣。

   له享受生活 ژوند څخه ګټه اخستل
6. 因此 دا وجه ده چه ...
7. د خپل ملی ذوقه سره سم 根据自己民族的爱好。
8. د سپورټ جلا جلا لوبې 各自独立的体育运动(项目)。
9. د پوهنې پروګرامونه 教育纲领
10. د خپل ژوند له شرطونو سره سم 按照自己的生活条件。

语法

现在完成时(一)

现在完成时用来表示一种不久前刚发生的，而且对现在的状况还有影响的行为。如：

هغه په بازار کښې یو کتاب اخستلی دی (اخستی دی).

他在市场上买了一本书。

توریالی چېرته تللی دی؟

土里亚莱到哪儿去了？

1. 及物动词现在完成时的构成：在原形动词词尾 ل 上加 ى（或 ي，ي），然后与系词“是”的现在时各人称变位相搭配。主语用变格。宾语用原格，它的性、数决定系词的变位。以 ليدل 为例，列表如下：

宾语 / 主语	第一人称单数		第二人称单数		第三人称单数	
	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	阴性
ما ، مونږ			ليدلې يې	ليدلې يې	ليدلی دی	ليدلې ده
تا ،تاسی	ليدلی يم	ليدلې يم			ليدلی دی	ليدلې ده
ده، دی، هغه، هغې، دوی ، هغوی	ليدلی يم	ليدلې يم	ليدلی يې	ليدلی يې	ليدلی دی	ليدلی ده

宾语 / 主语	第一人称复数		第二人称复数		第三人称复数	
	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	阴性
ما ، مونږ			ليدلي ئی	ليدلې ئی	ليدلی دي	ليدلې دي
تا ،تاسی	ليدلي يو	ليدلې يو			ليدلی دي	ليدلې دي
ده، دی، هغه هغی، دوی ، هغوی	ليدلي يو	ليدلې يو	ليدلي ئی	ليدلې ئی	ليدلی دي	ليدلې دي

及物动词كړل的现在完成时的构成，需换成新根كول ，然后进行变位。以其第三人称为例，列表如下：

第三人称				宾语 / 主语
复数		单数		
阴性	阳性	阴性	阳性	
كړي دي	كړي دي	كړې ده	كړی دی	ما ، مونږ تا ،تاسی ده، دی، هغه، هغی دوی ، هغوی

注：名词性合成及物动词(如： كوښښ كول)的现在完成时变位方法同此表。形容词性合成动词(如 ： پاكول)变位时，形容词本身的性与数同宾语相一致。

练 习

1. 回答下列问题:

١-تر اوسه پورې لا نه دی راغلی ؟

٢-نن ورځ کومې کومې لوبې په شریک ډول رواج شوي دي .

٣-په اوسنۍ نړۍ کښې د سپورټ زیاتې مؤسسې او کلوبونه جوړ شوی دی که لږې ؟

٤-ولی درباندی نا وخت دی ؟

٥-تا د مېلمنو د پاره څه شی پاخه کړي دي ؟

٦-دا کتاب د چا په مرسته زمونږ لاس ته رسېدلی دی ؟

٧-دا قصه چه مونږ لولو له کومې ژبې څخه ترجمه (翻译) شوی ده ؟

٨-انګور په کوم فصل کښې پخېږي ؟

٩-ته اوس هم لوست وایی که دې پرې اینښی دی ؟

2. 普译汉:

١-تر اوسه مې نوی کور لا نه دی پیدا کړی ، خو ور پسی ګرځُم .

٢-په دې وطن کښی ډېر ستر لیکوالان (作家) تېر شوي دي.

٣-بریالی اوس له کار څخه لوېدلی دی . (失去工作能力).

٤-زما موټر (汽车) له کاره لوېدلی دی او غواړم یو نوی راواخلم .

٥-هغه دوه واره لندن او یو ځُل پاریس ته هم تللی دی .

٦-مونږ ټول د یوه لاس ګوتې یو او یو د بل سره مینه لرو .

٧-هر یو چه دې په کار وي در به یی کړم .

٨-زما کتابچه دی له توریالی نه راوړه ؟ تر اوسه مې لا نه ده راوړې .

٩-د څه شی ښکار دې کړی دی ؟ د هوسی ښکار مې کړی دی .

١٠- متل : ښه دوست د بدې ورځُې دی . (谚语)

١١- متل: چه د سترګو نه لېرې شی ، د زړه نه به هم لېرې شي . (谚语)

3. 汉译普(用现在完成时):

1) 他还没走。

2) 你知道吗，他买了一辆新车？

3) 他已经两天没吃任何东西了。

4) 好久没见到你了。

5) 他在老师和同学的帮助下进步很快。

第三十一课　يو دبرشم لوست

د چرګ ځيرکي

يو زوړ چرګ چه ډېر ځيرک او هوښيار و ، يوه شپه د ونې پر څانګه ناست و . ګېډړه ور ته راغله او په خوږه ژبه يې ور ته وويل : وروره ! ګېډړانو او چرګانو په خپل منځ کښې د ملګرتوب ليک لاس ليک کړی دی . راشه را کښته شه چه زه او ته هم روغبړ سره وکړو .

چرګ ځواب ور کړ : ګرانه ! دې خبرې زه ډېر خوشحاله کړم. مګر هغه دی د ليرې څخه دوه سپي رازغلي او ګومان مې کېږي چه دا حال ما ته راوړي او ما پری خبروي . دا دی زه درکښته کېږم او روغبړ در سره کوم .

ګېډړې وويل : زه نن لږ څه ناروغه يم . نوره ملګرتيا در سره نه شم کولی .

د دې خبرو په ويلو سره وتښتېدله.

په دې وخت کښې چرګ ډېره خوشحالي کوله او له خپلې ځيرکۍ څخه خورا خوښ و .

لغتونه

ځيرکي	[dzi: ra′ki:]	(阴)	机智，机敏
هوښيار	[hu: ḥ′ja: r]	(形)	聪明的，伶俐的
څانګه	[′tsa: nga]	(阴)	树枝；分支；部门

خوږ [khog] (خوږه،خوارږه ، خوږی) (形)

甜的；快乐的；亲密的

ملګرتوب (یا ملګرتیا)

友谊；伴随； 同意 (阳) [malgr'tob]

لاس‌لیک [la:s'li:k]

签名，签字；签署

سپی [spai] (سپي یا سپیان) (阳)

狗

ځغستل(یا زغستل) [dzghas'təl] (ځغلی، وځغاست) (不及)

跑，奔走

گومان(یا گمان) [gu:'ma:n] (阳)

想法；意见；猜测

د چا گومان کېږي چه

认为，以为，推测

خبرول [khabara'wəl] (خبر یی کړ) (及)

通知，通告

(د چا سره)ملګرتیا کول

交朋友；随同，陪同，伴随

تښتېدل [təhtei'dəl] (تښتی، وتښتېد) (不及)

逃走，逃跑

خوشحالي [khu:ʃha:'li:] (阴)

快乐，高兴，愉快

دیالوګ

۱-ستا سی په ځای کښی غنم کېږي ؟ هو ، زمونږ په ځای کښی ډېر ښه غنم کېږي .

۲-تاسی په خپلو پټیو کښی څه شی کرلی دی ؟ مونږ په خپلو پټیو کښی غنم او جوار کرلی دی .

۳-په دې ځمکه کښی بزګر څه پاشلی دی ؟ اوربشی یی پاشلی دی .

۴-په چین کښی هم اوربشی کېږي ؟ هو ، ډېر ښه اوربشی کېږي.

۵-په چین کښی د کروندې وړ ځمکې زیاتی دی ؟ نه ، په چین کښی د کروندې وړ ځمکې زیاتی نه دي .

۶-اوربشی پېژنې ؟ ولی یی نه پېژنم . یو قسم دانې دي، خلک تر ې بیر جوړوي .

۷-غنم څنګه دی ؟ د غنمو وړی د اوربشی له وړی نه غټ دی . خلک غنم اوړه کوي او ډوډۍ یی خوري.

۸-شولې څنګه دي ؟ شولې ډېرې اوبه غواړي او غنم دومره اوبه نه غواړي . غنم په اوړی لو کېږي ، شولې په منی.

۹-تاسی خپل غنم ورېبل ؟ نه ، ما لا نه دی ربېلی . بل سبا زمونږ د غنم لو دی ، را شه زما سره لو وکړه .

۱۰-ستاسی انګور څنګه دي ؟ زمونږ انګور لا نه دی پاخه شوي . خلک اومه انګور نه شکوي .

لغتونه

غنم	[gha'nəm]	(阳、复)	小麦
پتی	[pa'tai]	(阳)	农田， 田垄
کرل	[ka'rəl]	(及) (ویي کاره)	种，播种
جوار	[dʒa'wa:r]	(阳、复)	玉米
پاشل	[pa:'ʃəl]	(及) (ویي پاشه)	播种；倾注；倒
اوربشی	[orbə'ʃi]	(阴、复)	大麦
کرونده	[karwan'da]	(阴)	耕种，可耕田；农业，耕地
ور	[war]	(形)	合适的，中用的，有用的；值得的，配的；应得的
قسم	[kism]	(阳)	种，类，种类；样子；品种

بير	['biər]	(阳)	啤酒
وږی	['waġai]	(阳)	穗
اوړه	[o'ṛə]	(阳、复)	面，面粉；粉末
شولې	['ʃu: lei]	(阴、复)	水稻，稻谷
لو	[law]	(阳)	收割，收获
لوکول		(及)	收割，收获
لوکېدل		(不及)	收割，收获
ړېبل	[rei'bəl]	(及) (ویي ړېبه)	收割，收获
بل سبا	[bəl-sa'ba:]	(副、阳)	后天
پوخ	[pokh]	(形) (پخه، پاخه، پخی)	成熟的；有经验的；老练的；上了年纪的
اوم	[u: m]	(形) (اومه، اومه، اومی)	生的，不熟的；没加工的
شکول	[ʃka'wəl]	(及) (و یی شکاوه)	撕，扯，撕破；撕下，摘去

注释

1. د ونې پر څانګه ناست و . 站在树枝上。
2. په خوږه ژبه خبرې کول 讲甜言蜜语； 用甜的语言说话。
3. په خپل منځ کښې 在自己的内部，相互之间。

4. ...هغه دی د لېرې څخه 看那边，从远处...

句中的 لېرې 是副词，د لېرې څخه 是习惯用语，意为从远处，从远方。类似的用法还有 له نژدې څخه 从近处；身临其境地。

5. ګومان مې کېږي چه... 我看好像是……

6. ما پرې خبروي. پرې 即 په دې حال 。告诉我这件事情。

7. دا دی زه در کښته کېږم 我这就下去。

8. له... څخه خوښ 由于……而高兴。

9. او د اوړو ډوډۍ يې خوري 句中的 يې 即 د اوړو 。全句可写成 خوري.

语 法

现在完成时(二)

1. 不及物动词现在完成时的构成，以 تلل 为例，列表如下：

主语 / 动词	زه		ته		دی، دا، هغه	
	阳性	阴性	阳性	阴性	دی، هغه	دا، هغه
تلل	تللی يم	تللې يم	تللی يې	تللې يې	تللی دی	تللې ده
主语 / 动词	مونږ		تاسی		دوی، هغوی	
	阳性	阴性	阳性	阴性		
تلل	تللي يو	تللې يو	تللي ئی	تللې ئی	تللي دي	تللې دي

不及物动词 كېدل 的现在完成时的构成，需换成新根 شول ，然后进行变位。形容词性不及物动词(如: جوړېدل)的现在完成时变位方法相同，形容词本身的性与数同主语相一致。列表如下:

主语 / 动词	زه		ته		دی، دا ، هغه	
	阳性	阴性	阳性	阴性	دی ، هغه	دا ، هغه
كېدل	شوی يم	شوې يم	شوی يې	شوې يې	شوی دی	شوې ده
جوړېدل	جوړشوی يم	جوړه شوی يم	جوړشوی يې	جوړه شوی يې	جوړشوی دی	جوړه شوی ده

主语 / 动词	مونږ		تاسی		دوی ، هغوی	
	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	阴性
كېدل	شوي يو	شوې يو	شوي ئی	شوې ئی	شوي دي	شوې دي
جوړېدل	جوړشوی يو	جوړه شوي يو	جوړشوي ئی	جوړه شوي ئی	جوړشوی دي	جوړه شوي دي

2. 现在完成时的否定式，由系词之前加否定小品词“ نه ”构成。有时为了强调语气，将系词和“ نه ”提到动词之前。如:

ما خو توریالی نه دی لیدلی.

我没有见到土里亚莱呀。

هغه تر اوسه نه دی راغلی.

他到现在还没有来。

练 习

1. 回答下列问题:

١-دمرغانو دليدنې حاسه د بنيادم د ليدنې تر حاسې قوی وي ؟

٢-په بازار کښی د اوړو قيمت زيات شوی دی ؟

۳-پرته له زمرک نه بل څوک راغلی دی ؟

۴-ته اوس هم د فوتبال لوبه کوې که دې پرې اینبنی ده ؟

۵-ته نن چا مېلمه کړی یې ؟

۶-آیا چرګ د ګېډې په بد نیت وپوهېده ؟ د ګېډې مطلب څه و ؟

۷-دا ساعت دې په څو اخستلی (اخستی) دی ؟

۸-بریالی په لاس کښی څه شی نیولی دی ؟

۹-دا طوطی دې په خپله نیولی دی که دې اخستی دی ؟

2. 普译汉:

۱-دا ډېرې ورځې کېږي چه توریالی مې نه دی لیدلی .

۲-زمرکه! زه چه تا ووینم ډېر خوشحالېږم . هو ! زه هم ستا په لیدو خوشحالېږم .

۳-غاټول ښه نجلی ده . تر اوسه یی په چا پوری نه دی خندلی .

۴-زه هیڅکله پټه خبره نه کوم . هر څه چه وا یم ښکاره یی وا یم .

۵-له بریالی څخه قلم ورک شوی دی. اوس ورپسی ګرځې .

۶-توریالی له تبت نه یو سپی راوستی او په کور کښی یی ساتلی دی .

۷-اوس مې په یاد نه دی چه چېرې مې لیدلی یې .

۸-څه چه کړې هغه به رېبې . (谚 语)

3. 汉译普:

1) 你的书找到了没有？ 没有，到现在还没找到。

2) 他有一个星期没上班了。

3) 雨已经下三天了。

4) 你对他说什么了？

5) 你是怎么来的？我是乘车(سپور)来的。

6) 他是今年从北京广播学院毕业(خلاصبدل)的，名叫滋马拉克。

4. 阅读：

مصريان د هغو لومړيو خلکو څخه وي چه مدنی (文明的，开化的)

شوي دي . مصريانو دا گومان کاوه چه دنيا يو اوار قاب (大盘子) دی چه اوبه

ور څخه چاپېرې شوی دی . هغوی د اوبو دغه بدن ته آسمانی سيند وايه او هغوی عقيده

(确信) لرله چه نايل په جنوب کښی د يوه غره له سوري نه له هغه څخه راوزي .

第三十二课　دوه دېرشم لوست

انډيوال ته ليک

زما گرانه وروره زمرکه !

سلام مې ومنه ! دا ډېر وخت کېږي چه ستا ليک نه دی راغلی ، نه پوهېږم چه ستا د ليک حُنډ د څه سببه دی .

زه ډېر خپه يم چه پرون تاسی زمونږ کور ته راغلی وئ او زه په کور کښی نه وم . پرون مې ډېر ضروری کار درلود ، تيان حُن ته تللی وم . له هغه حُايه مازديگر پر شپږو بجو راغلم .

کوم ليک چه تا پرېښی و ، هغه مې ولوست . هغه کتاب چه تا راوړی و ، هم راورسېد ، روغ اوسې!

اوس نو دا ليک تا ته وړاندی کوم . اميد لرم چه د اکتوبر په پنځلسمه ورځ راشې ، زه به در ته سترګې په لار يم او توريالی به هم د حُان سره راولې . زما سلام زما ملګرو ته ووايه .

نور دې په مخه بنه !

ستا ورور بريالی

بريالی جانه وروره !

ليک دې راورسېد . ډېر خوشحال شوم . بنه دی چه روغ يې . مونږ هم روغ ، جوړ يو . د پوهنځُي په باره کښی دې څه نه وو ليکلي . دا وار چه ليک را ته ليکې ،

د پوهنځي او درسونو حال پوره را ته وليکه او د کور نورو وړو ، غټو ته زما له خوا سلام ووايه ! که څه شی دې په کار و ، ما ته و ليکه . نور دې په مخه نه !

ستا ورور زمرک

لغتونه

اندیوال	[andi:'wa:l]	(阳)		朋友，好朋友
لیک	[li:k]	(阳)		信，书信；写字
سلام	[sala:m]	(阳)		问候，敬意
منل	[ma'nəl]	(阳)	(وېی مانه) (及)	承认；同意；接受
ځند	[dzand]	(阳)		耽搁；停滞；延迟
روغ	[rogh]	(形)		健康的，健全的
وړاندی کول		(及)		提交，提请(讨论)；推荐；呈递；发表(意见)
امید	[u'meid]	(阳)		希望，指望，期待
امید لرل				抱着希望，指望
پنځلسم		(数)		第十五
سترګې په لار				热切地期盼(……的到来)
راوستل	[ra:wu:s'təl]	(及)	(راولی، رایی ووست)	引，带；获得，弄到
مخه	['məkha]	(阴)		方向；前方，前面
باره	[ba:'ra]	(阴)		关于，对于

ديالوګ

احمد : (د تېلفون غوږی جګ کړ. غواړي چه تېلفون وکړي . ... نومره يی ډايل کړه.)

محمد : (د تېلفون زنګ واورېد . هغه هم غوږی جګ کړ .)

احمد : احمد غږېږي ، تاسی څوک يئ ؟

محمد : محمد يم . کوم حُای دې په کار دی ؟ (چا ته زنګ وهئ ؟ څوک دې په کار دی ؟)

ته يې احمد ؟ سلام عليکم !

احمد : هو ! څو واړې مې پخوا هم تېلفون در کړی و ، چا حُواب را نه کړ .

محمد : زه همدلته د تېلفون په څنګ کښی په ليک لګيا وم .ما خو زنګ نه دی اوربدلی .

احمد : ته توريالی راوغواړه. په کار مې دی .

محمد : توريالیه ، راشه، څوک درسره غږېږي .

توريالی : خير دی ، بيا به زنګ ور ووهم .

محمد :احمده. توريالی اوس ضروری کار لري ، هغه به خپله تېلفون در وکړي .

احمد : غږ دې صاف نه راحُي . دا ولی ؟

محمد : خدای پوهېږي . زياتی نو غوږی نښېږدم .

لغتونه

تېلفون	[teili'fu:n]	电话

غوږی	[ghwa'gai]	(阳)	听筒，耳机子
جګول	[dʒəga'wəl]	(及) (جګ یی کړ)	举起，抬起，提起
تېلفون کول			打电话
نمره	[nu:m'ra]	(阴)	号，号码，号数
ډایل کول	[dai:l ka'wəl]	(及)	拨(电话号码)
زنګ	[zang]	(阳)	铃，铃铛；铃声
غږېدل	[ghagei'dəl]	(وغږېد) (不及)	响，发声；说，说话
زنګ وهل			按铃；拨电话
ورکول		(及) (ور یی کړ)	给(与)，交给
همدلته	[ham'dəlta]	(副)	就在这里
څنګ	[tsang]	(阳)	旁边，侧面
لګیا	[lagi'ja:]	(形)	有事的，忙于……的
زیاتي	[zija:'ti:]	(副)	此外；再者；

不但如此(并且)

注 释

1. **دځه سبېه دی** 是什么缘故，因为什么。

同样用法 **له دې سببه** 由于这个缘故，由于这个原因。

2. **هغه کتاب چه تا راوړی و** 和 **کوم لیک چه تا پرېښی و** 是定语从句。前者是主句宾语的定语，是用疑问代词 **کوم** 引起的，后者是主句主语的定语，用指示代词 **هغه** 引起的，表示一个具体的东西或人。

3. اوس نو 这里连接词 نو 只起加强语气的作用。这种用法的例子还有：

ته به نو نه راځې ؟ 那么你就一定不来了？

4. دکور وړو غټو ته سلام ووایه ! 向家中的大人孩子问好！注意：

وړو 是 واړه 的变格。这类词还有 مور 、سور 等。

5. د چا له خوا 是“代表(某人)”之意。

6. څو واړې 是“几次”之意。习惯上有时把 وار 的复数 واړه 再一次变成复数 وارې 来使用。同样，حُلې 有时可以用作 حُل 的复数。

7. په لیک لګیا وم (当时)我正在写东西 په (یوه کار) لګیا 是固定词组。

8. زیاتی نو غوږی کښېږدم. 那我就放下电话了。

语 法

过去完成时(一)

过去完成时表示过去曾经有过的经历，或过去某一时刻发生的动作之前已经完成的行为或状态。如：

دا دومره وخت چېرته وې؟ کندهار ته تللی وم.

这么长时间(没见你了)，你到哪儿去了？我去了趟坎大哈。

دا هغه کتاب دی چه پروسږکال یی جایزه اخستې وه.

这就是去年获奖的那本书。

کله چه هوایی میدان ته ورسېدم ، الوتکه په هوا شوی وه.

我到达机场时，飞机已经起飞了。

د غزنی لرغونی ښار د غزنویانو په موده کښی جوړ شوی و ، مګر بیا وران شو.

加兹尼古城建于伽色尼王朝时期，但后来又遭到毁坏。

1. 及物动词过去完成时的构成：在原形动词词尾 ل 上加ی (或 ې 、ي)，

然后与系词“是”的过去时各人称变位相搭配。主语用变格。宾语用原格，它的性、数决定系词“是”的变位。以 ليدل 为例，列表如下：

第三人称单数		第二人称单数		第一人称单数		宾语 / 主语
阴性	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	
ليدلى وه	ليدلى و	ليدلى وې	ليدلى وې			ما، مونږ
ليدلى وه	ليدلى و			ليدلى وم	ليدلى و	تا ،تاسى
ليدلې وه	ليدلى و	ليدلې وې	ليدلى وې	ليدلى وم	ليدلى وم	ده،دى، هغه،هغى، دوى، هغوى

第三人称复数		第二人称复数		第一人称复数		宾语 / 主语
阴性	阳性	阴性	阳性	阴性	阳性	
ليدلې وى	ليدلي وو	ليدلې وئ	ليدلي وئ			ما، مونږ
ليدلې وى	ليدلي وو			ليدې وو	ليدلي وو	تا ،تاسى
ليدلې وى	ليدلي وو	ليدلې وئ	ليدلي وئ	ليدلې وو	ليد لي وو	ده، دى، هغه،هغې، دوى، هغوى

及物动词 كول 的过去完成时的构成，需换成新根 كړل，然后进行变位。以其第三人称为例，列表如下：

第三人称				宾语 主语
复数		单数		
阴性	阳性	阴性	阳性	
كړې وې	كړې وو	كړې وه	كړې و	ما، مونږ، تاسی، ده، دی، هغه، هغې، دوی، هغوی

注：名词性合成及物动词(如：كوښښ كول)的过去完成时变位方法同此表，形容词性合成及物动词(如：پاكول)变位时，形容词本身的性和数同宾语相一致。

لغتونه

پروسږ کال	[parosəg'ka:l]	(阳)	去年
